# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| خاطره هائی از مقاومت | Resistance Memories |
| --- | --- |



ژباړه: فرهاد وياړ


۰۵ جولای ۲۰۱۳

## د يانګ تسه له سيند څخه تيريدل

**(۴)**



يوه ورځ سهار، چه يينګ په بيړه پلورنځي ته راغي او چانګ ته خبر ورکوي:«هئوکين ـ پيائو نوي مقررات وضعه کړي دي چي له دې وروسته هر څوک چي د سيند په شمال کي ژوند کوي، خو د کار سيمه يي په سويل کي ده، که څه له ځان سره ونلري کولای شي د سيند له لارې خپل کاله ته ستون شي؛ خو هغه څوک چي دې خوا ته ژوند کوي، له سيند څخه د تيريدني حق نلري.»



لومړنی پوښتنه چي د هغوی ذهن ته راځي، دا ده چي له دې مقرراتو سره څرنګه باید نقشه د سیند بلې غاړې ته ولیږي. دری واړه ملګري په دې اړه فکر کوي. له څو شیبو وروسته، د چه یینګ مغزو ته یو فکر راځي. دری واړه پریکړه کوي چي دا فکر پلي کړي.



د هماغه ورځ له غرمې وروسته هغو مسافرینو چي غوښتل د سیند بلې غاړې ته لاړ شي، له دقیقي تلاشی او ګرویږني وروسته په جاله کي سپریدل؛ خو جالوانه لا نه ده راغلی. هئوکین ـ پیائو د بندر تر څنګ ودریدلی او اندیښمن دی، له ځان سره وایي: «آه، دا لعنتی چیری ورکه شوی ده؟» په دې وخت کي چه یینګ په منډه منډه په داسي حال کي چي ساه یي سوزیده او د جالي راشپیل یي پر اوږه و، رارسیږي او چیغه وهي:«دا دی راغلمه، راغلمه!»



چه یینګ جاله ته دانګي او بی له ځنده په ټول توان سره راشپیل وهي، جاله حرکت کوي.



هغه راشپیل په دواړو لاسونو کلک نیسي، ځکه چې په کې نقشه پټه اېښودلی شوی ده. موسکا یې پر شونډو خپرېږي او جاله اصلي لورې ته بیایي.



څو ورځې وروسته دښمن احساسوي چې د هرې ورځ په تیریدو یې موقعیت خرابیږي. نو تصمیم نیسي چې هغه یوازینی جاله چې په تګ راتګ کې ده، ودروي. چانګ تل له ځان سره فکر کوي:«که ونشو کړای د پټو پوځې تاسیساتو نقشه لاس ته راوړو، څه باید وکړو. څنګه باید اړین اطلاعات چې ملګري ورته دومره سترګې په لاره دي، هغوې ته ولیږو....»



چانګ په دې فکرونو کې ډوب دی چې یوځل د دنګې ونې سړی له خولی او چپن سره راننوځي او د هغه د فکرونو لړۍ غوڅوي. چانګ، خپله شاوخوا ګوري، کله چې ډاډمن کیږي چې څوک نشته، په ورو آواز چې په کې خوشالي څپه وهي پوښتنه کوي: «د قرارګاه قوماندانه! ته ما نه پیژنئ؟»



چانګ د هغه لاس په میني کلک نیسي او په حیرانتیا ورته وایي:«ګرانه لي! دا ته یې!» کله چې چانګ د ولس د آزادي بخښونکی پوځ د قرارګاه قوماندان و، لي د هغه رابط مامور و. خو اوس دا پخوانی همجنګیال، په خپله د یانګ تسه سیند څخه د تیریدلو لپاره د پیژندني د یوې ډلې د مرکز افسر و.